# صليبي جګړې

## د عربانو له خولې




ليکوال:

امين معلوف

ژباړن:

سليمان اسلام دوست


صليبي جګړې د عربانو له خولې

ليکوال: امين معلوف ژباړن: سليمان اسلام دوست

# The Crusades through Arab Eyes


Translated by: Sulaiman Islamdost



ISBN 978-9936-661-86-8

9 789936 661868

2023

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د علومو اکاډمي**

**د ژباړې مرکز**

# صليبي جګړې د عربانو له خولې


ليکوال: امين معلوف

ژباړن: سليمان اسلام دوست

## د کتاب ځانګړنې:


**د کتاب نوم:** صلیبي جګړې د عربانو له خولې

**لیکوال:** امین معلوف

**ژباړن:** سلیمان اسلام دوست

**ایډیټور او مهتمم:** څېړنپوه دکتور نورالله کوثر

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د ژباړې کال:** ۱۴۰۲ ل.

**د چاپ کال:** ١٤٠٢ل / ۱۴۴۵ هـ ق

**دچاپ ځای:** بهیر مطبعه

ISBN: ۸- ٨٦- ٦٦١- ٩٩٣٦- ٩٧٨



**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# ليكلړ

**سرليک** **مخګڼه**


د مرکز نظر ........................................ ا

د ژباړن سريزه ........................................ ١

د سر خبرې ........................................ ٧

پېيل ........................................ ٨

**لومړۍ برخه** ........................................ ١٣

برید (١٠٩٦-١١٠٠ز.) ........................................ ١٣

**لومړی څپرکی** ........................................ ١٥

فرنګيان راورسېدل ........................................ ١٥

**دويم څپرکی** ........................................ ٣٧

لعنتي زغره جوړوونکی ........................................ ٣٧

**درېيم څپرکی** ........................................ ٥٩

د معرې سړي خوارهٔ ........................................ ٥٩

**دويمه برخه** ........................................ ٨٣

اشغال (١١٠٠-١١٢٨ز.کلونه) ........................................ ٨٣

**څلورم څپرکی** ........................................ ٨٥

د طرابلس دوه زره ورځې ........................................ ٨٥

**پنځم څپرکی** ........................................ ١١٣

دستار لرونکی مبارز ........................................ ١١٣

**درېيمه برخه** ........................................ ١٤١

ځوابي برید (١١٢٨-١١٤٦ز.) ........................................ ١٤١

**شپږم څپرکی** ........................................ ١٤٣

د دمشق دسيسې ........................................ ١٤٣

**اووم څپرکی** ........................................ ١٥٩

د بربرو په منځ کې امير ........................................ ١٥٩

**خلورمه برخه** ........................................ ۱۷۹
بریا (۱۱۴٦-۱۱۸۷ز.کلونه) ........................................ ۱۷۹
**اتم خپرکی** ........................................ **۱۸۱**
پرهیزگاره پاچا نورالدین ........................................ ۱۸۱
**نهم خپرکی** ........................................ **۱۹۹**
پر نیل بریدونه ........................................ ۱۹۹
**لسم خپرکی** ........................................ **۲۱۹**
د صلاح الدین اوښکې ........................................ ۲۱۹
**پنځمه برخه** ........................................ ۲٤۹
تعلیق (۱۱۷۸-۱۲۴۴ز.کلونه) ........................................ ۲٤۹
**یوولسم خپرکی** ........................................ **۲۵۱**
ناشونی ملاقات ........................................ ۲۵۱
**دولسم خپرکی** ........................................ **۲٦۹**
عادل او کامل ........................................ ۲٦۹
**شپږمه برخه** ........................................ ۲۸۷
شړل (۱۲۲۴-۱۲۹۱ز.کلونه) ........................................ ۲۸۷
**دیارلسم خپرکی** ........................................ **۲۸۹**
د مغول متروکه ........................................ ۲۸۹
**څوارلسم خپرکی** ........................................ **۳۰۵**
خدای دې وکړي چې بیا هېڅکله دلته پښې کېنږدي ........................................ ۳۰۵
وروستۍ خبرې ........................................ ۳۲۳
یادښتونه او سرچینې ........................................ ۳۲۹
کرونولوژي ........................................ ۳٤۱

# د مرکز نظر

موږ د ارتباطاتو په زمانه کې ژوند کوو او ترجمه د ارتباط او مفاهمې یوه مهمه وسیله او طریقه ده، همدارنګه د دې وسیلې او طریقې په مرسته د علومو او فنونو زېرمو او سرچینو ته لاره پیدا کوو او معرفت حاصلوو. څرنګه چې د ژباړې فن د بشري ټولنو له جوړېدا سره سم پیل شوی او د دوی له غوښتنو سره په تړاو یې انکشاف کړی، نو دې ټکي ته په پام، په هېواد کې د اسلامي امارت تر قیام وروسته د علومو اکاډمۍ په چوکاټ کې د ژباړې مرکز ایجاد شو. هدف یې دا دی، چې د هېوادوالو علمي، فرهنګي او تخنیکي اړتیاوو ته په کتو د علومو، فنونو او ټکنالوژۍ د بېلابېلو ډګرونو اړوند اړین او زبده آثار د هېواد ملي او رسمي ژبو ته راواړوي او خپاره یې کړي.

د علومو او فنونو وده او پرمختیا د پوهې په راخپلولو کې د بشر د پرلهپسې هلو ځلو او تجربو نتیجه ده، چې د نړۍ تر ټولو غوره علمي او فرهنګي میراث بلل کېږي او د نړۍ فرد فرد ته په کار دي، چې پکې ونډه ولري. د دغې ونډې د جوتونې یوه نېغه او آسانه لار د نورو له تجربو څخه استفاضه او استفاده ده. د ژباړې مرکز غواړي، چې له دغې لارې څخه په ګټه د دغو او دې ته ورته نورو علمي او فني آثارو د ژباړې او خپراوي پر مټ د خپل دین، وطن او ثقافت د ودې او پرمختیا په هڅه او هاند کې خپله ملي او اسلامي فریضه ادا کړي.

د ژباړې مرکز ویاړي، چې د ایجاد له وخته یې تر اوسه په لسګونو علمي او تخصصي آثار د هېواد ملي او رسمي ژبو ته رااړلي او خپاره کړي دي او دا دی، د دې علمي او تخصصي اثر ژباړې او خپراوي سره د علم او معرفت د تعمیم او ترویج په لاره کې یو بل مهم او مستحکم ګام اوچتوي. مرکز د ژباړن، مصحح او مهتمم مننه کوي، چې د دې اثر د ژباړې، تصحیح او اهتمام کار یې په پوره لېوالتیا، مینې او اتقان سره ترسره کړی دی.

د ژباړې مرکز د اسلامي، بشري او طبیعي علومو، فنونو او نورو مؤثقو معلوماتي آثارو د ژباړې، تصحیح، اهتمام، طباعت او اشاعت د چارو د بهبود لپاره د هېواد دننه او له هېواده بهر د ژباړونکو مشورې او همکارۍ ته د قدر په سترګه ګوري او ژمنه کوي،

چې د دوی ژباړلي آثار به خپلو وسیلو او امکاناتو ته په پام په لوړ معیار او کیفیت چاپ او خپروي. هیله ده، چې درانه لوستونکي د مرکز د ژباړل شوو او خپرو کړو آثارو د بډاینې او بهبود په اړه خپل نظرونه، وړاندیزونه او سپارښتنې له مرکز څخه ونه سپموي.

په درنښت

د ژباړې مرکز

# د ژباړن سریزه

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام علی سيد المرسلين محمد و علی آله وصحبه أجمعين ومن تبعهم بإحسان و إيمان وجهاد إلی يوم‌الدين، أما بعد:

د شرق او غرب او په تېره بيا د آسيا او اروپا ترمنځ د دښمنيو او ټکرونو لړۍ ډېره پخوانۍ ده، چې تر محمدي شريعت وړاندې د فارس او روم اووه سوه کلنې جګړې يې ښکاره بېلګې دي. کله چې په مدينه منوره کې د اسلامي دولت پايې مضبوطې شوې، نو اسلامي پوځ په **ډېره لنډه موده** کې له توپير پرته د وخت دواړه زبرځواکونه مات او له منځه يووړل.

د راشده خلفاوو له زماني څخه رانيولې بيا تر امويانو پورې، شرق او غرب لورو ته د مسلمانانو د فتوحاتو لړۍ همداسې په چټکۍ روانې وې، چې بيا د عباسيانو په دور کې ټکنۍ شوې. د عباسيانو دور که له يوې خوا له علمي، فرهنګي او اقتصادي پلوه زرينه دوره وه، خو له بله پلوه په همدې څه باندې پنځه سوه کلنه دوره کې مسلمانان او په تېره بيا د واک خاوندان په تدريج سره د لومړنيو مسلمانانو له وياړمنې لارې دومره منحرف شول چې په اکثرو برخو کې ورسره هېڅ د پرتلنې وړ نه وو؛ مثلاً د واک پر سر خپلمنځي جګړې او اختلافات تر دې کچې ورسېدل، چې هغې پراخې او يو موټې اسلامي خاورې د ښارونو په شمېر پاچاهان او اميران پيدا کړل؛ داسې واکمنان چې په هېڅ څه نه سره پخلا کېدل.

خپلمنځي اختلافاتو او جګړو ځيني کمزوري او واک خوښي کسان دې ته مجبور کړل چې د غچ اخيستو او واک ته د رسېدو لپاره له پرديو څخه مرستې وغواړي، له هغوی سره ژمنې او تړونونه وکړي او پر مټ يې خپل رقيبان راوپرځوي. دغو اختلافاتو کفار په کافي اندازه د مسلمانانو له حالاتو او کمزوريو خبر کړل، نو پايله يې دا شوه چې د دوی هيبت يې له زړونو ووت. لومړی يې په اندلس کې د دوی اته سوه کلنې ريښې وروچې کړې او ورپسې يې د پاپ په اعلان د بيت المقدس او نورو اسلامي خاورو د اشغال لپاره د صليبي جګړو تر نامه لاندې حشر وکړ.

د صليبيانو په دغو بې‌رحمه او وحشيانه جګړو کې په هيچا رحم نه کېدهٔ، آن

ماشومان به په اور سرۀ او خوړل کېدل، ښارونه به يې لوټ او له خاورو سره خاورې کېدل، ښځې به يې يا وينځې او يا به له تېغه تېرېدې. دا پېښې دومره زړه بوږنونکې دي، چې د دې کتاب د لوستلو او ژباړلو پر وخت مې څو ځله له ډېر خفګان او خجالته کتاب تړلی او په نورو کارونو بوخت شوی يم؛ خو کېدای شي ځوک وپوښتي چې نن بايد ولې د بېرحميو دا داستان ولولو؟ په تېره بيا افغانان او پښتانۀ د هغو صليبي جګړو لوستلو ته څه اړتيا لري، چې د عربانو او ترکانو په سيمو کې پېښې شوي؟ لنډ او عام ځواب يې دا دی چې موږ ټول د مشترکو باورونو خاوندان او له واحد برخليک سره مخامخ امت يو. صليبي جګړو نه يوازې پر مسلمانانو منفي اغېزې پرېباسلي، بلکې د دې سيمې نور قومونه يې هم متاثره کړي، آن د نړيوالو اړيکو او سياستونو څرنګوالی يې ټاکلی. د کتاب د ليکوال په وينا: دغو اوږدو جګړو د شرق او غرب ترمنځ دومره ستره کنده کيندلې، چې که په ډکولو يې پېړۍ هم تېرې کړو، بيا هم نه ډکيږي؛ نو داسې موضوع د يوې ځانګړې سيمې ستونزه ګڼل نه يوازې منطقي نه ده؛ بلکې خطرناکې پايلې هم درلودی شي؛ خو تفصيلي او خاص ځواب دا دی چې د اکثرو خلکو د ګمانونو خلاف د صليبي جګړو پر مهال افغانان يو بې پرې او منزوي قوم نه و، بلکې په بېلابېلو ډګرونو کې يې د صليبيانو پر وړاندې مبارزې کړې دي، مثلاً لکه په همدې کتاب کې چې هم راغلي، د «محمد بن منصور **ابو سعد الهروي**» په نوم شخص، چې تقدير له دې سيمې بوولی او د دمشق د قاضي القضات په توګه يې ټاکلی و، لومړنی کس و چې په لويه کچه او رښتوني معنا يې د صليبيانو پر وړاندې د مسلمانانو د ويده ځواک، يعنې «**جهاد**» د راويښولو هڅه وکړه او د غبرګون او پاڅون يوه نوې بنه يې رامنځ ته کړه، چې وروسته د ابن الخشاب په څېر کسانو دغه لار تعقيب او وغځوله.

ابو سعد الهروي (رحمه الله) تکړه ديني عالم، اديب، شاعر او جراره وياوال و. د اميرانو او پاچاهانو په دربارونو او د عوامو په منځ کې به يې چې د ورپېښ ناورين او ذلت په اړه خبرې کولې، هيچا ته به يې د چوپ پاتې کېدو دليل نه پرېښودۀ. هغو مسلمانانو به چې د دۀ اغېزمنو خطبو ته ژړل، نو دۀ به ويل چې اوس د اوښکو وخت نه، بلکې د تورو او جهاد وخت دی. شاعرانو به د دۀ له خطبو قصيدې جوړولې او په مسلمانانو کې د

«**زین الإسلام**» په لقب مشهور شوی و، خو د خواشینۍ ځای دی، چې داسې ستر مشاهیر نن د هغوی په خپل قام کې څوک نه پېژني، نو هغه نوم ورکي افغان مجاهدین به څوک څه وپېژني چې د بیت المقدس د آزادولو په جګړو کې، په تېره بیا د حطین په برخلیک ټاکونکې غزا کې د **سلطان صلاح‌الدین ایوبي** (ﷺ) ترڅنګ جنګېدلي، چې تر فتحې وروسته د بیت المقدس په شاوخوا کې ځمکې هم ورکړل شوي او ځینې کورنۍ یې لا تر اوسه هم هلته مېشتې دي او د افغانانو په نامه یادېږي.[1]

د **قدس** شریف سویل لوېدیځ لور ته د «**حي الأفغاني**» په نامه سیمه لا تر اوسه په همدې نامه یادېږي. د **عثمانیانو** پر مهال جوړه شوې زاویه[2] چې یو کوچنی جومات هم لري لا هم د «**زاویة الأفغانیة**» په نامه موجوده ده، چې ساتونکي یې لا تر اوسه له خپلو نومونو سره د «**الأفغاني**» کلمه لیکي. صهیونستان له دې خلکو سره دومره کینه لري، چې په ۲۴/۱۲/۲۰۱٦ نېټه یې د **عایشه الأفغاني** په نامه ۳۴ کلنه ښځه په دې جرم په ۱۵ کاله بند محکومه کړه، چې چاړهٔ ورسره موندل شوې وه او په خواشینۍ سره چې دغه مظلومه مېرمن لا تر اوسه[3] هم د یهودانو په بند کې ده.

له دې خبرو دا معلومېږي چې افغانان په **شاماتو**[4] او نورو هغو سیمو کې ځلانده کارنامې لري، چې لا تر اوسه په مستقله توګه څېړل شوې نه دي؛ نو اړتیا ده چې له

[1]- د حطین په جګړه کې د افغانانو د جګړو روایت مې لا تر اوسه په کوم تاریخي کتاب کې نه دی لوستی، بلکې په دې اړه اکثره روایتونه شفاهي دي. دا چې صلاح‌الدین ایوبي (رح) د بیت المقدس د آزادولو په جګړو کې پر ټولو مسلمانانو غږ کړی و، نو شواهدو ته په کتو په دغو جګړو کې د افغان جنګیالي قوم ونډه حتمي ښکاري؛ ځکه تر ننه هم که څوک فلسطین ته ورځي، نو د فلسطینیانو له خولې به د دې موضوع پخلې واوري. که څه هم کولی شو زیاتې بېلګې وړاندې کړو، خو دلته به یې د نمونې په توګه یواځې یوې ته اشاره وکړو:

د «محمد عزیزي» په نوم د افغاني الاصله بریتانوی په خاطراتو کې لولو، چې کله نوموړی د بریتانوي او امریکایي مسلمانانو له یوې ډلې سره په ۲۰۱۷ میلادي کال کې له بریتانیې څخه د فلسطین اشغال شوو سیمو ته تللی، نو هلته یې د حطین په جګړه کې د افغانانو د ونډې په وجه تر نورو ملګرو زیات درناوی شوی او د هغو جګړو کیسې یې ورته کړې دي... . (لوستونکي د ښاغلي محمد عزیزي دغه خاطرات د دهٔ پر فیسبوک پاڼه هم لوستلی شي.)

[2]- زاویه یا خلوتځای هغه ګوښه ځای او کونج ته ویل کېږي چې صوفیانو به د معنوي موخو لپاره په کې اړول.

[3]- یعنې ۲۰۲۳ میلادي کال.

[4]- د آسیا په سویل ختیځ کې هغه سیمې ته ویل کېږي چې نننۍ سوریه، اُردن، لبنان، فلسطین، قبرس، د ترکیې ځینې سویلي سیمې او د مصر ختیځ په کې واقع دی.

خورو ورو سرچینو څخه یې معلومات راټول او وڅېړل شي، ترڅو بیا چاته دا پوښتنه پیدا نه شي چې ولې باید هغه پېښې ولولو؟ ځکه په دې توګه به له اسلامي امت سره د اړیکو او تعلقاتو په تاریخ خبر شوي یو، زموږ پر وړاندې د ځینو غبرګونونو او دښمنیو په عواملو به پوهېدلي یو او د ځان پېژندنې او حللار موندنې په برخه کې به مو یو بل باب پرانیستی وي. ځکه که اکثرو دریځونو، تحولاتو او پېښو ته په محدوده توګه نه، بلکې په پراخ او ژور نظر وکتل شي، نو وبه لیدل شي چې دغه اوسني حالات د زنځیر د کړیو په څېر له ډېرو لرې تاریخي پېښو او حالاتو سره تړلي او بیا تر اوسه راغځېدلي او نور اړخونه یې پیدا کړي دي.

د امین معلوف په دې اثر کې د بشري تاریخ پر یوې مهمې موضوع، یعنې صلیبي جګړو څېړنه شوې، خو په لنډه او داستاني شکل او د عربي مؤرخانو د آثارو په استناد بیان شوې. له معاصرو مسایلو سره د تاریخي پېښو تړل، د بېلابېلو روایتونو تر څنګ په څنګ کولو وروسته د موضوع شننه او په ښکلو ادبي استعارو او ترکیبونو یې بیانول د کتاب یوه بله هغه ځانګړنه ده، چې لوستونکی ځان ته ورکاږي او د لیکوال په هڅو یې آفرینې ته اړباسي.

دا کتاب په اصل کې په فرانسوي ژبه لیکل شوی؛ لیکوال یې د موخې په اړه په یوې مرکې کې ویلي: «د کتاب په سرلیک کې نه «**صلیبي جګړې**» مراد دي او نه هم «**عربان**»، [ځکه چې په دې برخو کې ډېر مستقل او ستر کتابونه لیکل شوي دي] بلکې اساسي ټکی یې «**له خولې**» [یا روایتونه] دي. ما په شرق او غرب کې ډېر عمر تېر کړی، کلونه کېږي چې وینم هم شرقیان او هم غربیان نه شي کولی چې خپلو یو اړخیزو فکرونو ته شا کړي. کله د بل پر ځای ځان انګېرل د عقلانیت په لور لومړنی ګام دی». یعنې دا کتاب یې غربي لوستونکو ته په دې وجه لیکلی، ترڅو یې د مسلمانانو د کرکې په عواملو وپوهوي.

امین معلوف لوستونکي په داسې پوښتنو مخاطبوي چې په اوسني عصر کې هم بحثونه پرې کېږي، لکه: صلیبي جګړو په کومه کچه د غربي تمدن په وده کې ونډه درلودلې؟ آیا د مسلمانانو د تمدن د ړنګېدو لامل تر وخت مخکې پر غربي تمدن باور

دی؟ آیا په منځني ختیځ کې د اروپا د پراختیا او لاسبري لامل دا دی، چې دوی د عربي ژبې له لارې د عربانو فرهنگ زده کړی؟ آیا د سنت او مډرنیزم پر سر د معاصرو مسلمانانو د اختلافونو ریښې صلیبي جگړو ته رسولی شو؟ دا او داسې نورې هغه پوښتنې چې لیکوال یې په اړه په دې کتاب کې ځوابونه ویلي.

ما دا کتاب څو کاله وړاندې په فارسي ژبه لوستی و. د صلیبي جگړو په اړه یې د معلوماتو ترتیب او د هغوی د شننې له اړخه راته د یو متفاوت سبک کتاب ښکاره شو. په تېره بیا په دې وجه چې د صلیبي جگړو په اړه یې په لومړي لاس او پخوانیو سرچینو تکیه کړې وه، زموږ لپاره یې هم نوي معلومات لرل او هم یې زیاتې پوښتنې په ذهن کې راپیدا کړې. له هغې جملې دا چې په مدرسو، ښوونځیو او پوهنتونونو کې د ابو سعد الهروي په څېر مشاهیرو او همدارنگه د هغه مهال له عربانو او ترکانو سره زموږ د مثبتو اړیکو او په صلیبي جگړو کې زموږ د ونډې په اړه ولې هېڅ نه دي لوستي؟ د افغانستان د علومو اکاډمي د تاریخ برخې له یوه درانه استاد سره مې دا خبره شریکه کړه، خو هغوی ته هم زما په څېر دا موضوع جالبه وه. تر ځان تکړه کسانو ته به مې په دې اړه د څېړنو او لیکنو یادونه کوله. ځینو ژمنې هم راسره وکړې، خو سر ته ونه رسېدې. تر دې چې دا موضوع مې د افغانستان د علومو اکاډمي د ژباړې مرکز له محترم رئیس، مولوي سید احمدالله هاشمي سره شریکه کړه او دې ته مو هم لنډه اشاره وکړه چې که چېرې دا کتاب وژباړل شي، نو کېدای شي د چا د کنجکاوۍ احساس راوپارېږي او په دې برخه کې څېړنې وکړي. ښاغلی هاشمي خوښي څرگنده کړه او ماته یې دنده راوسپارله چې دا کتاب وژباړم.

ستونزه دا وه چې لومړی مې باید د فارسي ژباړې په کره‌توب ځان ډاډه کړی وای، ځکه زما فرانسوي ژبه نه ده زده، چې نېغ په نېغه مې له هغې ژبې راژباړلی وای. تر لږو پلټنو وروسته پوه شوم چې دا کتاب د عربي او انگریزي ژبو ترڅنگ د نړۍ گڼو ژبو ته ژباړل شوی، نو لومړی مې کتاب په اصلي ژبه او ورپسې په انگریزي او عربي ژبه ترلاسه کړ. د ژباړې پر مهال به مې اکثراً فارسي، عربي او انگریزي متنونه مخ ته پراته وو، د درې واړو په پرتلنه به مې پښتو ته ژباړه ترې کوله؛ ورپسې به مې خپل پښتو کړی متن

له فرانسوي ژبې سره د پرتلنې لپاره درانهٔ ملګري ماليار پکتين ته ورسپارهٔ، چې په پوره حوصله مندۍ يې هده جمله لوستله او د مفهوم د دقت په اړه به يې ډاډ راکاوهٔ. چې له همدې امله ترې د زړهٔ له کومې مننه کوم او له ښښتن تعالی څخه ورته د دارينو برى غواړم. همدرانګه د څېړندوی عزيز الله مبارز، څېړنپوه دکتور نورالله کوثر، استاد شېرخان حساس او محترم عتيق الله حميدي څخه ډېره ډېره مننه کوم چې د پښتو ژبارې د ايډېټ او اصلاح په برخه کې يې خپله بشپړه همکاري راڅخه نه ده سپمولې؛ همدارنګه له تکړه ليکوال او ژباړن محمد ياسين مجاهد څخه ډېره مننه کوم چې د کتاب د پښتو عنوان په انتخاب کې يې همکاري راسره کړې او دعلومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو د رياست له رئيس، ټولو کارمندانو او په تېره بيا د محمد مجتبی همايون څخه ډېره مننه کوم چې د کتاب د ډيزاين او چاپ په برخه کې يې زيات زحمت باسلی. الله تعالی دې له دوی راضي شي. په اخر کې د خپل قصور او کمزورۍ د اعتراف په توګه بايد ووايم چې کېدای شي دا ژباړه به ډېرې نيمګړتياوې او تېروتنې ولري، خو که يې را په ګوته کړئ، منندوی به مو يم.

د زمري ۱۴۰۲/۲۰ ل.کال

سليمان اسلام دوست

د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل

# د سر خبرې

دا کتاب په یوه ساده مفکوره، یعنې د صلیبي جګړو د تاریخ په بیان پیلیږي، خو هغسې چې د جګړې بل لوري، یعنې عربانو لیدلي، تجربه کړي او نقل کړي دي؛ نو د کتاب منځپانګه تقریباً د عربي مؤرخینو او پېښلیکونکو د اسنادو پر بنسټ ولاړه ده.

دوی د صلیبي جګړو نه، بلکې د فرنګیانو د یرغلونو او جګړو یادونه کوي. د فرانک کلمه مختلفو سیمو، لیکوالانو او دورو ته په کتو په بېلابېلو بڼو لیکل شوې ده، د بېلګې په توګه: فرنج، فرنجات، افرنج، افرنجات[1] ... نو د یووالي لپاره مو د کلمې تر ټولو لنډه بڼه غوره کړه، چې حتی نن هم عوام په خپله ژبه غربیان او په ځانګړې توګه فرانسویان د **فرنګیانو**[2] په نامه یادوي.

د متن له اوږدېدلو څخه د مخنیوي په موخه مو د کتاب په وروستۍ برخه کې د کتاب پېژندنې، تاریخي او دې ته ورته نورو توضیحاتو یادونه کړې، چې بېلابېلو څپرکو سره جلا کړي دي. دا توضیحات د هغو لوستونکو لپاره ګټور دي چې د ډېرو معلوماتو غوښتونکي دي، خو د دې روایت لپاره چې د ټولو د پوهېدو لپاره کښل شوی، مهم نه دی. حقیقت دا دی چې د نوي تاریخي کتاب تر لیکلو وراخوا مو غوښتل چې تر اوسه له پامه غورځول شوې موضوع، یعنې د صلیبي جګړو دوو کړکیچنو پېړیو «واقعي داستان»ولیکم، د هغه دور داستان چې د لویدیځ او عربي نړۍ بڼه یې بدله کړه او اوس یې هم د اړیکو [څرنګوالی]ټاکي.

---

[1] -Franj, Faranjat, Ifranj, Ifranjat.

[2]- دغه نوم د فرانک د قوم له نامهٔ څخه اخیستل شوی دی، چې مسلمانانو د اروپا د لویې وچې پر مېشتو قومونو ایښی دی. (فرهنګ مصاحب). معمولا پښتانهٔ فرنګیان د پرنګیانو په بڼه انګریزانو ته وایي؛ خو په دې کتاب کې له فرنګیانو څخه مراد یوازې انګریزان نه دي. (ژباړن)